# خپل وطن پخپله خوښه تلل یا داوطلبانه عودت

پاملرنه! د دی پاڼی مقررات په ځینو حالاتو کی د هغه نفر د پاره چی وغواړی بیله خپل وطنه څخه په کوم بل هیواد کی استوګنه اختیار کی هم صحت لری.

**څوک کولای شی و خپل هیواد ته د بیرته تګ په خاطر د مرستی غوښتنه وکړی؟**

تاسی کولای شی د مرستی غو ښتنه وکی او مرسته لاس ته راوړی که داسی اقامه ولری:

- د پناهنده په صفت
- د ځانی امن په خاطر
- د بعضی معلومداره او حساسو شرایطو په خاطر (یا د پخوانی مقرراتو سره مطابق)

**او یا:**

- که د مهاجرو د سهمیی په ډول قبول شوی یاست.

په بعضی حالاتو کی ستاسی اقارب چی ستاسی په ارتباط اقامه اخیستی ده هم کولای شی چی د مرستی غوښتنه وکړی.

په دی خاطر چی د مرستی مستحق شی، تاسی باید ثابت کړی چی تاسی د ځان او د خپل د کورنی د سفر خرڅ نشی کولای پخپله ورکړی. میړه یا مادینه، غیر نکاحی عیال(sammanboende) ، او ماشومان چی عمر ئی تر اتلسو کالو څخه کم وی د کورنی د غړی په شمیر کی راځی.

هغه نفر چی د سویډن تابعیت لری د دی مرستی مستحق نشی کیدای.

**که زه د سویډن څخه کډه وکړم نو زما اقامه به څنګه شی؟**

کله چی تاسی د سویډن څخه کډه وکړی او پخپل هیواد یا کم بل هیواد کی استوګنه وکړی نو پدی صورت، د مهاجرینو ریاست ستاسی اقامه بیرته اخلی. هغه نفر چی سیاسی پناهندګی او یا مصئونی پناهندګی ولری او وغواړی چی هغه هیواد ته چی پخوا ئی ژوند پکښی کړی دی بیرته ولاړ شی نو دایمی اقامت ئی د دوو کالو نه وروسته د اعتباره وزی.

**که وغواړم چی بیرته سویډن را سم آیا کولای شم نوی دایمی اقامه لاس ته راوړم؟**

تاسی کولای شی د نوی اقامه غوښتنه وکړی. دا فورمه باید د سویډن هغه سفارت یا کونسلګری ته تحویل کړی چی تاسی ته نږدی وی. مخ کی لدی نه چی تاسی سویډن ته راسی باید چی ستاسی اقامه (ویزه) فیصله او ستاسی پر پاسپورټ باندی ټاپه شوی وی.

کله چی د مهاجرینو ریاست ستاسی د غوښتنی اجراأت کوی په هغه وخت کی ګوری، تاسی چی پخوا په سویډن کی ژوند کړی دی یا ستاسی د کورنی کومی غړی اوس هم په سویډن کښی ژوند کوی که نه. پدی وخت کی موږ ګورو چی تاسی د څو مودی دپاره په سویډن استوګنه کړی ده او څو موده مو پخپل هیواد او یا کوم بل هیواد کی مو تیره کړی دی. دا چی د خپل سفر دپاره مو مرسته اخیستی ده، ستاسی د غوښتنی د اجراأت په وخت کی کم معنی نلری.

د غوښتنی د اجراأت په وخت کی، دی ټکی ته د مثال په ډول غور کیږی:

- که مو د سویډن څخه د باندی د یوه کال د مودی څخه ډیر وخت نوی تیر کړی نو تاسی ته نوی اقامه ورکول کیږی که څه هم د سفر نه مخ کی مو په سویډن کی مو لږه موده تیر کړی وی.
- که په سویډن کی مو حد اقل د څلورو کالو دپاره ژوند کړی وی او بیا د یو او درو کالو په موده کی مو په بل هیواد کی استوګنه کړی وی، نو په هغه وخت کی نوی اقامت تاسی ته درکول کیږی.
- که د سویډن څخه د باندی د درو کالو نه ډیره موده استوګنه کړی وی او بیا د سره نوی څخه د سویډن اقامه لاس ته راوړی نو شرط ئی دا دی چی تاسی باید په سویډن کی د لس ـ پنځه لسو کالو د اقامی سابقه ولری.
- که و خپل هیواد ته د تللو په موده کی واده وکی، او بیا وغواړی چی بیرته سویډن ته راسی، نو باید داسی فکر و نکی چی د سویډن اقامه حتماً تاسی ته درکول کیږی.

**په مالی مرستو کی کوم شیان شامل دی؟**

په مالی مرستو کی د سفر خرڅ د سویډن څخه او یوه نقدی مرسته شامل دی تر څو چی تاسی خپل چاره په اول وختو کی وکی. دا نقدی مرسته د هر بالغ سړی دپاره لس زره کرونه او د هر ماشوم دپاره چی عمر ئی د اتلسو کالو څخه لږ وی پنځه زره کرونه دی. د یو کورنی دپاره جمعاً حد اکثر څلویښت زره کرونه کومک کیږی.

تاسی ته د سفر لپاره دا مالی مرسته کیږی که وغواړی چی د الوتکی، اورګاډی، بس او یا د خپل



Migrationsverket

شخصي موټر په وسیله ولاړ شي.
که تاسي خپل هیواد ته ولاړ سي چي د استوګنی د امکاناتو په باره کي معلومات و کي او بیرته راشي، نو تاسي ته دا مرسته نه کیږي. ستاسي سره د کور د لوازمو د ټرانسپورټ د خرڅ دپاره هم کومک نه کیږي.

**کوم شرطونه باید تاسي پوره کي؟**
تاسي باید د خپل هیواد د اعتبار وړ پاسپورټ ولری او وکولای شي چي پخپل وطن کي یوه پته ور کړي. که تاسي نشي کولای چي د خپل هیواد پاسپورټ لاس ته راوړي، نو د معلومات د اخیستلو دپاره د مهاجرینو د ریاست سره تماس ونیسي. په ځینو حالاتو کي تاسي باید نور سندونه تحویل او یا معلومات وسپاري. که وغواړي چي په کوم بل هیواد کي استوګنه وکړي نو تاسي باید چي د هغه هیواد د اقامي جواز ښکاره کړي. که لازم وي چي د سفر په وخت کي باید د نورو هیوادو د لاری څخه تیر سي نو باید دهغو هیوادو ویزی هم ښکاره کړي.
تاسي باید ښکاره کړي چي کوم پورونه په سویډن کي لري او کوم جایدادونه په سویډن او په هغه هیواد کي چي استوګنه اختیاروی لري.
هغه پورونه چي په سویډن کي لري ئي تحویل کي او یا د پور د خاوند (د مثال په ډول بانک) سره په توافق ورسیږي.

**څنګه کولای شم چي د مرسته غوښتنه وکړم؟**
تاسي باید د Migr4453 فورمه ډک کړي چي کولای شي دا فورمه د مهاجرینو د ریاست څخه لاس ته راوړي او یا د اینټرنیټ څخه کاپي کي چي پته ئي دا ده: www.migrationsverket.se . دا فورمي د کمیون د مهاجرینو په دفتر (Flyktingmottagning) یا د مهاجرینو په بیرو (Invandrarbyrå) کي هم شته.
فورمه پدی پته ته واستوی:
Migrationsverket
Resebidrag
60170 Norrköping
**د خپلی فورمی سره دا شیان ضمیه کړی:**
- د پاسپورټ فوټوکاپي داسي چي په هغه کي ستاسي پیژندنه او د پاسپورټ د اعتبار موده مشخص وي.
- د ثبت احوال پاڼه (personbevis), او که احیاناً ماشوم ولری د هغه او د هغه د ولی مشخصات هم پکښي ثبت وي.
- د مالیی د ریاست څخه خپل او د خپل بالغ همسفر د مالیی د تصفیی آخرنی سند (skattsedeln).

که مور او پلار د ماشوم یا د ماشومانو مشترک سرپرستي ولری او یو نفر ئي د خپل ماشون سره سفر وکي نو هغه باید چي د خپل ماندینه یا د خپلی میړی کتبی رضایت ولری.

**دا مالي مرسته کله تحویل کیږي؟**
دا نقدی مالي مرسته، شخصاً تاسي ته د پوستي حوالي (postanvisning) په ذریعه استول کیږي.

**آیا حتمي دی چي د کورني ټولي غړي یو ځای سره عودت وکي؟**
نه، تاسي ضرورت نلري چي دا کار وکړي. که داسي وي چي د کورني کوم غړي په سویډن کي پاته شي نو یوازي هغه چي مالي مرسته ورته حواله شوی دی باید چي د دی ځای څخه سفر وکي.

**څوک د سویډن څخه د سفر ترتیبات جوړوي؟**
کله چي د مهاجرینو ریاست ستاسي په هکله تصمیم ونیسي چي تاسي د ټکټ او د نقدی مرسته مستحق یاست، په هغه وخت کي تاسي یو جواب استول کیږي. تاسي ته ویل کیږي چي د مالیی ریاست ولاړ سي او هلته د دایمي مهاجرت فورمه (Flyttning till utlandet) ډک کړي. پردی فورمه باید تاسي ولیکي چي مهاجرت مو دایمي دی او لاسلیک ئي کړي. کله چي مو فورمه لاسلیک کړل، یو کاپي ئي تاسي ته ورکل کیږي چي تاسي باید هغه د مهاجرینو ریاست ته ولیږي. د مهاجرینو ریاست تاسي ته پیسي استوي او د ټکټ سفارش ورکوي.
د مهاجرینو د ریاست سره په مناسب وخت خبری وکي چي پر کومه نیټه غواړي د سویډن څخه سفر وکي تر څو چي سفر ستاسي د هیلی سره برابر جوړ شي.

**آیا غواړي چي نور معلومات هم واخلي؟**
که د مالي مرستي او په کوم بل هیواد کي د استوګنی په ارتباط سوالونه ولری، د مهاجرینو د عمومي ریاست سره په ټلیفون لمبر 36 92 485-010 (مرکز یا سویچ بورډ 235 235-0771) یا زموږ د منطقوی شعبو سره تماس ونیسي.
پدی همدی ډول کولای شي چي د خپل کمیون د مهاجرینو دفتر (Flyktingmottagningen), د مهاجرینو بیرو (Invandrarbyrån) اویا د عودت دفتر (Återvandringskontoret) سره تماس و نیسي.

Migrationsverket

د سویډن د صلیب احمر د داوطلبانه عودت شعبه د
ویکشو په منطقه چی پته ئی دا ده:
Kungsgatan 18
352 31 Växjö
د ټلیفون لمیر:15004- 0470

د معلومات منبع: د خارجیانو دپاره د سویډن څخه د
مهاجرت او په بل هیواد کی د استوګنی مالی مرسته
(SFS 1984:890) او آخری تجدید شوی ماده
2006:115

Migrationsverket